۲۲ لاربنود

# اضافي ماليې او جرايم



## سريزه

د ۱۳۸۷ کال پر عايداتو باندې مالياتو د قانون ١٦ فصل په هغو ماليه ورکوونکو چې ددې قانون سره سم خپل مالياتي مکلفيتونه نه ترسره کوي، د اضافي ماليې او جرايمو د ورکړې په اړه صراحت لري. اضافي ماليې په ټاکلي وخت د اظهارنامې نه ارائه کولو، په ټاکلي وخت د ماليو نه ورکولو، په کافي ډول د يادښتونو نه ساتلو، د ضرورت په وخت کې د ماليو نه وضع کولواو د ماليه ورکوونکي د پېژندلو نمبر نه اخيستلو په صورت کې مينځ ته راځي.

اضافي ماليه او جرايم همدارازد عادي ماليو د احکامو سره سم وضع او تحصيليږي. په دې مانا چې اضافي ماليه او جرايم دعايداتو باندې مالياتو قانو ۱۳ فصل (د ماليې ارزونه او ورکړه) د احکامو سره سم او د عايداتو باندې مالياتو ١٤ فصل (د مالياتو د ورکړو تاديه) سره سم تحصيليږي.

**يادونه:**

**د ماليې وزارت عوايدو لوی رياست ته د لاربښودونو يا فورمو په وړاندې په هره مرحله کې، د ارزونې، د مالياتو د جمع کولو او يا د قانون د پلی کولو په مراحلو کې هيڅ ډول فيس يا لګښت نه ورکول کيږي.**

## په ټاکلي وخت د ماليې نه ورکول

د عايداتو باندې مالياتو قانون ۱۰۰ ماده د هغو ورکړو په اړه چې په خپل ټاکلي مهال ترسره شوي نه وي، د ۰،۱۰ په سلو کې اضافي ماليې د وضع په اړه صراحت لري. د اضافي ماليې وضع حتی که اظهارنامه په ټاکلي وخت ډکه شوي هم وي، د تطبيق وړ ده. اضافي ماليه په هر ډول نا ورکړل شوې ماليې په شمول د انتفاعي معاملو ماليه، موضوعي ماليې او ثابتې ماليې چې د عايداتو باندې مالياتو پر ځای وضع شوې ده، د تطبيق وړ ده.

***لومړی بېلګه:*** اديب دالف دشرکت دټولو صادر شويو سهمونو څښتن دی اود الف شرکت يو افغاني سهامي شرکت دی د الف شرکت بايد ۱۳۸۸ کال اظهارنامه د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي تر وروستۍ ورځې پورې ارائه کړي. د الف شرکت بايد خپله د ذمت ماليه له خپلې اظهارنامې سره يوځای تاديه کړي. دا الف شرکت خپله مالياتي اظهارنامه د غبرګولي دمياشت څخه دوروسته مياشتې (چنګاښ) تر لسمې نيټې پورې ډکه او ارائه کوي. مالياتي مکلفيت چې په اظهارنامه کې ښودل شوی دی ۱۰۰،۰۰۰ افغانۍ دی. کله چې د الف شرکت ۱۰۰،۰۰۰ افغانۍ د غبرګولي وروسته مياشت په لسمه نيټه تحويل کړي، ياد شوی شرکت ۱،۰۰۰ افغانۍ د جريمې له درکه پوروړی ګڼل کيږي. (۱۰۰،۰۰۰ افغانۍ × ۰٫۰۱ (=۰٫۰۱ په سلو کې) ×لس ورځې).

***دويمه بېلګه:*** په دې بيلګه کې مندرج حالات او حقايق عينا د لومړۍ بيلګې په شان دي، يوازې پرته له دې چې د الف شرکت خپله مالياتي اظهارنامه د غبرګولي مياشت په وروستيو لسو ورځو کې ارائه کوي. لکه څرنګه چې ماليه د راتلونکې مياشت (چنګاښ) تر لسمې پورې نه ده ورکړل شوې، د ناوخته ورکړې اضافي ماليه د لومړۍ بيلګې مندرجې ماليې عينا ورته دی. داچې د الف شرکت خپله مالياتي اظهارنامه په ټاکلې نيټه ارائه کړې ده (خو ماليه ئې نه ده تاديه کړې) اضافي ماليې پورې اړه نه نيسي.

د عوايدو رياست کيدای شي د ۱۰۰ مادې مندرج ۰،۱۰ په سلو کې اضافي ماليې د تطبيق څخه په هغه صورت کې ډډه وکړي چې اضافي ماليه له ۲۵۰ افغانيو کمه وي. د ماليو په بيلابيلو ډولونو باندې د ۲۵۰ افغانيو حد په بيلابيلو توګو تطبيقيږي.

***دريمه بېلګه:*** هارون په هرات کې يو رستورانت پر مخ وړي. په کال ۱۳۸۸ کې د رستورانت خالص عوايد ۲،۰۰۰،۰۰۰ افغانيو ته رسيږي او د ۱٦۰،۰۰۰ افغانيو مصرف د کسر څخه وروسته، ګټه هم لاسته راوړي. هارون د عايداتو باندې ماليې (د ۱۳۸۸ کال دغبرګولي په وروستۍ ورځ) او د انتفاعي معاملو ماليې ( د راتلونکې ربعې په پنځه لسمه ورځ) په ورکړه مکلف دی. هارون په غير قصدي توګه هغه ماليې د ټاکلو نيټو څخه يوازې د څو محدودو ورځو لپاره نه تاديه کوي. که چيرې ۰،۱۰ په سلو کې اضافي ماليه چې ددې مادې لاندې محاسبه کيږي، د عايداتو باندې ماليې له درکه ۲۰۰ افغانيو او د انتفاعي معاملو ماليې له درکه ۱۰۰ افغانيو ته ورسيږي، په هغه صورت کې د ماليې وزارت کولای شي دواړه مبلغونه سره له دې چې حد ئې ۲۵۰ افغانيو ته رسيږي، صرف نظر کوي.

د عوایدو ریاست لخوا د ا اضافي مالیې د یادښت د ټاکنې د صدور پر مهال ( د مالیه ورکوونکي د بررسۍ یا مالیاتي اظهارنامو د اصلاحاتو په پایله کې) د مالیاتو اداره تر ۵۰،۰۰۰ پورې د ۱۰۰ مادې مندرج۰،۱۰ په سلو کې اضافي مالیې د تطبیق ځخه ډډه وکړي په داسې صورت کې چې ثابته شي چې تاسې د عایداتو باندې مالیاتو د قانون ځخه د اطاعت پذیرۍ هڅه کړې ده.

تاسې مکلف یاست ترڅو اضافي مالیې د لغوې د غوښتنې پر مهال، لیکلی مدرک په لاس کې ولرئ. د اضافي مالیې د لغوې غوښتنه باید د عوایدو د رئیس یا معاون لخوا چې وروسته د دوی له لوري د عوایدو او ګمرکونو معینیت ته لیږدول کیږي، و منل شي. وروستنۍ پریکړه معین پورې چې د اضافي مالیې د نه پلې کولو په اړه موافقه کوي، اړه نیسي.

### *د اسنادو نه ساتنه*

که چیرې تاسې د عایداتو باندې مالیاتو د قانون په رڼا کې د کافي اسنادو په ساتنه او چمتو کوونه مکلف یاست خو نه بریالي کیږئ، یا اسناد د مالیې وزارت د مسؤلینو لاسرسۍ ته نه ورکوئ، په دې صورت کې د اضافي مالیې په ورکړه مکلف یاست. که چیرې د اسنادو د نه ساتنې او چمتو کوونې په اړه مؤجه دلیل ولرئ، اضافي مالیه پر تاسې نه وضع کیږي.

### *حقیقی اشخاص*

حقیقي اشخاص د اسنادو د نه ساتنې او چمتو کوونې په صورت کې د ۵۰۰۰ افغانیو اضافي مالیې تابع کیږي.

### *حکمی اشخاص*

حکمي اشخاص د اسنادو د نه ساتنې او چمتو کوونې په صورت کې د ۲۰،۰۰۰ افغانیو اضافي مالیې تابع کیږي.

***۱ بیلګه:*** د الف شرکت د یو حکمي شخص په توګه د کابل ولایت کې ستر کار او فعالیت پر مخ بیائي. د الف شرکت د خپلو عوایدو اسناد ساتلي او د مصارفو اسناد ئې نه دي ساتلي. یاد شوی شرکت مالیاتي اظهارنامه ډکه او ارائه کوي چې نوموړې اظهارنامه د شرکت عواید ۱،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ او مصارف ۸۰۰،۰۰۰ افغانۍ ښئي. د عایداتو باندې مالیاتو قانون ۳۶ مادې سره سم، نوموړی شرکت د اسنادو په ساتنه مکلف دی. کله چې د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست له نوموړي شرکت ځخه د هغوی د اسنادو د نه ساتنې په اړه پوښتنه کوي، د نوموړي شرکت اداره وائي چې له داسې کوم مکلفیت ځخه ئې خبرتیا نه لرله. سره له دې که یاد شوی شرکت په تیره کې د مالیې وزارت لخوا هیڅکله د بررسۍ لاندې نه وي راغلی، نوموړی شرکت د مناسبو یا د پام وړ اسنادو د نه ساتنې لپاره مؤجه دلیل نه لري. تمه کیږي چې د الف شرکت د عایداتو باندې مالیاتو د قانون له ټولو مکلفیتونو ځخه (په شمول د هغو مکلفیتونو چې د اسنادو د ساتنې اړوند دي) د تشبث د نورو مناسبو اشخاصو په څیر خبر وي، نو بناَ د ۲۰،۰۰۰ افغانیو اضافي مالیې تابع کیږي.

***۲ بیلګه:*** عزیز په کابل کې د یو ګودام خاوند دی. په ۱۳۸۸ کې د عزیز ګودام د او لګیدنې له کبله ویجاړیږي. د ۱۸ مادې د ۹ جز د ۱ فقرې سره سم- د خپل ګودام د مصارفو مجرائي په ۱۳۸۸ کې لاسته راوړي. د ۱۸ مادې ۹جز ۱ فقره داسې بیانوي چې د کسراتو د وضعې په موخه، عزیز مکلف دی ترڅو مناسب او بشپړ اسناد د ګدام د بیې ښودونکو اسنادو په ګډون، له ځانه سره ولري. کله چې له عزیز ځخه غوښتل کیږي چې د ګودآم د بیې اسناد وړاندې کړي، هغه په ځواب کې وائي چې داسې کوم سند په لاس کې نه لري او وائي چې د اسنادو د نه لرلو دلیل دادی چې ټول اسناد په ګودام کې وو او د اور لګیدنې په پایله کې له مینځه تللي دي. په دې صورت کې د عزیز دلیل د اسنادو د نه لرلو په اړه مؤجه ګڼل کیږي او پر دې بنسټ د اضافي مالیې تابع نه ګرځي.

***۳ بیلګه:*** د عوایدو لوی ریاست کارکوونکي د الف شرکت دوسیه بررسي کوي او د قرارداد د اسنادو د بررسۍ غوښتنه کوي چې د الف شرکت کې ساتل کیږي. یاد شوي کارکوونکي د عایداتو باندې مالیاتو د قانون د ۱۰٦ مادې یو نقل چې کارکوونکو ته د داسې عمل صلاحیت ورکوي، د یاد شوي شرکت رئیس ته ورښئي. د شرکت رئیس یاد شوي کارکوونکو نه پریږدي تر څو یاد شوو اسنادو ته لاسرسي ومومي، په دې بنسټ چې د هغه په باور یواځې محکمه کولای شي هغه دې کار ته اړباسي تر څو د شرکت کاري اسنادو ته د لاسرسۍ اجازه ورکړي او د یاد شوي شرکت محرم اسناد هغه سیالو شرکتونو ته ځرګند نشي. د شرکت د رئیس نظر غیر مؤجه دی، ځکه چې د عایداتو باندې مالیاتو قانون د افغانستان یو معتبر نافذه قانون دی او په واضح ډول د محکمې د حکم ځخه پرته اسنادو ته د لاسرسۍ اجازه ورکړې ده. سربیره پردې پر عایداتو باندې مالیاتو قانون د کارکوونکو لخوا ترلاسه شوي معلومات محرم بولي او له وزارت ځخه د باندې هر شخص ته ددې معلوماتو د ځرګندوونې مخنیوی کوي، مګر داچې د قانون په واسطه ئې اجازه ورکړل شوې وي. نوموړی رئیس د شرکت اسنادو ته د لاسرسۍ په اړه مؤجه دلیل نه لري نو پر دې بنسټ ۲۰،۰۰۰ افغانۍ اضافي مالیه په شرکت باندې ټاکل کیږي.

*د مالیاتو څخه د تیښتې په موخه د اسنادو نه چمتوکوونه او ساتنه*

که چیرې د مالیې د ورکړې د کتمان په موخه د اسنادو د چمتو کوونې او ساتنې څخه ډډه وکړئ، د اضافي مالیې سربیره څارنوالۍ ته معرفي کیږئ او د جرایمو د ورکړې یا حبس تابع کیږئ.

*د مالیاتي اظهارنامې نه ارائه*

که چیرې اظهارنامه ډکه نه کړئ یا په ټاکلي وخت ئې ارائه نکړئ، د مؤجه دلیل نه لرلو په صورت کې د اضافي مالیې تابع کیږئ.

*حقیقی اشخاص*

د مالیاتي اظهارنامې د ځنډ په صورت کې، که شخص حقیقي وي، د رخصتي ورځو څخه پرته په هره ورځ باندې د ۱۰۰ افغانیو په ورکړه مکلف دی.

*حکمی اشخاص*

د مالیاتي اظهارنامې د ځنډ په صورت کې، که شخص حکمي وي، د رخصتي ورځو څخه پرته په هره ورځ باندې د ۵۰۰ افغانیو په ورکړه مکلف دی.

***لومړی بیلګه:*** د الف شرکت یو افغاني سهامي شرکت دی. دغه شرکت باید خپل اظهارلیک د ۱۳۸۹ کال د غبرګولی تر وروستۍ ورځې پورې وړاندې کړي. یادشوي شرکت خپل د ۱۳۸۸ کال اظهارلیک د ۱۳۸۹ کال د غبرګولي دمیاشتې دپای څخه وروسته (دچنګاښ) ترلسمې ورځې پورې نه وړاندې کوي. کله چې دعوایدو دلوی ریاست مسئولین د الف دشرکت څخه پوښتنه کوي چې ولې د خپل مالیاتي اظهارلیک په وړاندې کولو کې بریالی شوی نه دی، د الف دشرکت کارکوونکي په ځواب کې وایي چې د خپلو مالي اسنادو په بشپړولو کې دستونزې سره مخ شوي . د الف شرکت په ټاکلې نیټه د اظهارلیک د نه چمتو کوونې او نه وړاندې کولو لپاره موجه دلیل نلري اوپه همدي دلیل دځنډ دهرې ورځې لپاره د ۵۰۰ افغانیو اضافي مالیې تابع ګرځي.

***دویمه بیلګه:*** د (ب) سهامي شرکت یو افغاني سهامي شرکت دی. دا شرکت د ۱۳۸۸ کال لپاره د ۱۳۸۹ د غبرګولي تر ۳۱ پورې د خپلي مالیاتي اظهارنامه په ډکونه او ارائه مکلف دی. د (ب) شرکت د ۱۳۸۹ تر وري میاشت پورې د اظهارنامې په ارائه نه بریالی کیږي. په ټاکلي وخت سره د اظهارنامې نه ارایه کولو کې د یاد شوی شرکت دلیل دادی چې یاد شوی شرکت کې اورلګیدلی وو او ټول مالي سندونه پکې له مینځه تللي دي. د الف شرکت وکولای شو د اورلګیدنې څخه وروسته په چټکتیا سره مالیاتي اظهارنامه ډکه او ارائه کړي نو پر دې بنسټ باید د(ب) شرکت په ورځ کې د ۵۰۰ افغانیو اضافي مالیې تابع و نه ګرځي.

*د مالیاتو څخه د تیښتې (فرار) په موخه د مالیاتي اظهارنامې نه ارائه کول*

که چیرې د اظهارنامې نه ارائه کول د مالیاتو څخه د تیښتې په موخه وي، د اضافي مالیې د ورکړې سربیره څارنوالۍ ته معرفي کیږي او د جرایمو د ورکړې تابع یا په حبس محکومیږي.

## د مالیې نه وضع کول

که چیرې تاسې د عایداتو باندې مالیاتو د قانون د احکامو سره سم د مؤجه دلیل څخه پرته د مالیې په وضع چې د ونډې په ګټه، تکتانه، حق الامتیاز، معاش، مزد، کرایه، کمیشن، دقرارداد له درکه ورکړو او نورو ورته عوایدو تطبیقیږي، بریالي نشئ، د هغې مالیې چې باید وضع ئې کړئ ۱۰ سلو کې اضافي مالیه تادیه کړئ.

***بیلګه:*** د الف شرکت یو افغاني سهامي شرکت دی چې درې تنه انفرادي اشخاص ئې استخدام کړي دي. د دریو یاد شوو اشخاصو نومونه رازق، ادیب او عزیز دي. لکه څرنګه چې د الف شرکت درې تنه استخدام کړي دي، نو پر دې بنسټ مکلف دی تر څو د یاد شوو کارکوونکو له معاشونو څخه مالیه وضع کړي. هغه شخص چې په نوموړي شرکت کې د کارکوونکو له معاشونو څخه د درستې مالیې په وضع او ډاډ ترلاسه کولو مکلف دی، فیروز نومیږي. رازق په شرکت کې دنده د ۱۳۸۸ کال چنګاښ میاشت په لومړی نیټه پیل کړې ده. فیروز په کال ۱۳۸۸ کې د رازق له معاش څخه د مالیې په وضع بریالي نه شو ځکه چې د فیروز په باور رازق یو خپلواک قراردادي دی. د فیروز باور په دې حقیقت ولاړ دی چې رازق د الف شرکت سره لیکلی قرارداد ترسره کړی دی خو ادیب او عزیز داسې قراردادونه نه لري. کله چې د عوایدو لوی ریاست کارکوونکي د الف شرکت تر بررسۍ لاندې راولي، داسې مومي چې رازق یو کارکوونکی دی او خپلواک قراردادي نه دی. که چیرې د فیروز باور او عقیده معقوله وي، په هغه صورت کې ۱۰ په سلو کې اضافي مالیه باید تطبیق نه شي.

### *د مالیاتو څخه د تیښتې په موخه د مالیاتو نه وضع کول*

که چیرې د مالیاتو څخه د تیښتې په موخه د مالیو له وضعې څخه ډډه وکړئ، د اضافي مالیې د ورکړې سربیره څارنوالۍ ته معرفي کیږئ او د جریمو په ورکړه یا حبس محکومیږئ.

### *د مالیې نه ورکول*

که چیرې د مؤجه دلیل څخه پرته د قانون د احکامو سره سم د خپل ټاکل شوي د ذمت مالیې په ورکړه بریالي نه شئ، د ۱۰ په سلو کې اضافي مالیې تابع کیږئ. دا مالیه د عایداتو باندې مالیاتو قانون ۱۰۰ مادې مندرج هر ډول اضافي مالیې سربیره ده چې د مالیې د ورکړې د ځنډ په پایله کې تطبیقیږي.

***لومړی بیلګه:*** عزیز یو انفرادي شخص دی چې په کال ۱۳۸۸ کې ئې د معاش له درکه ۱،۲۰۰،۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کړي دي. د عزیز استخدام کوونکي درست مبلغ (۸،۹۰۰ افغانۍ) د هغه له معاش څخه وضع کړي دي نو پر دې بنسټ عزیز د معاشونو د مالیې له درکه پوروړی نه دی. عزیز د جایداد کرایې له درکه چې د هغه مالکیت دی، ۱۰۰،۰۰۰ افغانۍ (د کسراتو له وضعې څخه وروسته) ترلاسه کوي. عزیز د خپلو کرایوي عوایدو له درکه ۲۰،۰۰۰ افغانۍ پوروړی دی (۱۰۰،۰۰۰ ×۲۰ په سلو کې). عزیز د غبرګولي تر پای پورې د ۲۰،۰۰۰ افغانیو په ورکړه نه بریالی کیږي. هغه د غبرګولي تر پای پورې د مالیې د نه ورکړې لپاره هیڅ ډول مؤجه دلیل نه لري نو بناَ عزیز د ۲۰۰۰ افغانیو اضافي مالیې تابع ګرځي(۱۰،۰۰۰ افغانۍ × ۱۰ په سلو کې).

عزیز باید ۲۲،۰۰۰ افغانۍ (۲۰،۰۰۰ د ذمت مالیه جمع ۲،۰۰۰ د نه ورکولو په پایله کې اضافي مالیه) د ۱۰۰ مادې مندرج اضافي مالیې سره چې د ټاکلي نیټې څخه د هرې ورځې په وړاندې محاسبه کیږي، تادیه کړي. که چیرې عزیز د ذمت مالیه او اضافي مالیه د غبرګولي د لسمې نیټې پورې تادیه نه کړي، هغه د ۱۰۰ مادې مندرج ۲۲۰ افغانیو اضافي مالیې له درکه پوروړی پاتې کیږي(۱۰ ورځې ×۱۰۰،۰ × ۲۲،۰۰۰ افغانۍ).

***دویمه بیلګه:*** ددې بیلګې حقایق او حالات د لومړۍ بیلګې ورته دي، البته پرته له دې چې عزیز د اظهارنامې په ارائه او د مالیې په ورکړه بریالی شوی نه دی، ځکه چې هغه د موټر د پیښې په پایله کې په روغتون کې تر درملنې لاندې وو، په دې حالت کې عزیز په ټاکلي وخت د مالیې د نه ورکړې لپاره مؤجه دلیل درلود، نو بناَ هغه نه باید د ۱۰ په سلو کې اضافي مالیې لاندې راشي.

### *د مالیاتو څخه د تیښتې په موخه د مالیاتو نه ورکول*

که چیرې پرعایداتو باندې دمالیاتو دقانون سره سم دمالیاتو څخه دتیښتې په موخه مالیه ورنه کړئ ، د اضافي مالیې د ورکړې سربیره څارنوالۍ ته معرفي کیږئ او د جرایمو د ورکړې تابع یا په حبس محکومیږئ.

## د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر د نه ترلاسه کوونې اضافي مالیه

تاسې د عایداتو باندې مالیاتو د قانون ۸۶ مادې سره سم د پیژندنې نمبر په اخیستو مکلف یاست، که چیرې د موجه دلیل څخه پرته د مالیه ورکوونکي د پیژندنې نمبر ترلاسه نه کړئ، تاسې به د ۵۰۰۰ افغانیو اضافي مالیې په ورکړه مکلف یاست او که حکمي شخص یاست د ۲۰،۰۰۰ افغانیو اضافي مالیې په ورکړه مکلف یاست.

***لومړی بیلګه:*** آسیه د بدخشان په ولایت کې په یو کوچني کلي کې ژوند کوي. هغه په یو نړیواله غیر دولتي موسسه کې دنده ترسره کوي. آسیه په خپل کلي کې د دایې په توګه دنده تر سره کوي. هغه له هغو ښځو سره چې ماشوم زیږوي، مرسته کوي. د هغې ګمارونکې مرجع د آسیې له معاش څخه یو مقدار د قانون سره سم په ۱۳۸۹کال کې وضع کوي. د ۸۶ مادې سره سم آسیه ۹ ۱۳۸مالي کال لپاره د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر په لرلو مکلفه ده. آسیه بیسواده ده او د تشخیصیه نمبر د اخیستلو لپاره د مناسبو فورمو او پاڼو په اخیستلو بریالۍ نه شوه. ګمارونکې مرجع د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر د لاسته راوړلو په اړه آسیې ته هیڅ ډول معلومات په لاس رسۍ کې ور نکړل. نو آسیه مجبوره ده تر څو څو ورځې طی کړي تر څو د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر دفتر و مومي. کله چې د عوایدو لوی ریاست کارکوونکي آسیه تفتیش کوي او هغه خبروي چې هغه د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر اخیستلو ته اړتیا لري. آسیه د مناسبو فورمو د لاسلیک لپاره خوښه څرګندوي او د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر ترلاسه کوي. آسیه د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر د نه اخیستلو لپاره معقول دلیل لري.

***دویمه بیلګه:*** ساریکا د کابل په ولایت کې ژوند کوي. هغه په یو نړیواله غیر دولتي موسسه کې د دایې په توګه دنده تر سره کوي. د ساریکا ګمارونکې مرجع د هغې له معاش څخه د ۱۳۸۹ کال په اوږدو کې مالیه وضع کوي. هغه له خپلې ګمارونکې مرجع څخه پوښتنه کوي چې ولې د هغې له معاش

ځخه مالیه وضع شوې ده. ګمارونکې مرجع ساریکا خبروي چې هغه پر عایداتو باندې د مالیاتو تابع ده او باید د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر تر لاسه کړي. په کابل ولایت کې ساریکا انټرنټ ته لاس رسي لري چې له دې لارې کولای شي د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر فورمې لاسته راوړي او همداراز کولای شي چې په کابل ولایت کې د مالیې وزارت دفترونو ته مراجعه وکړي او مالیاتي فورمې ترلاسه کړي. ساریکا د مالیه ورکوونکي تشخیصیه نمبر نه ترلاسه کوي ځکه چې د انټرنټ څخه استفاده او د مالیې وزارت ته تګ د پیسو د لګښت سبب ګرځي. ساریکا د مالیه ورکوونکي د تشخیصیه نمبر د نه اخیستلو لپاره موجه دلیل نه لري او د ۵۰۰۰ افغانیو اضافي مالیې لاندې راځي.

یادونه:

په www.mof.gov.af/tax کې دمالیه ورکوونکي دمعلوماتو پاڼه دمالیه ورکوونکي لپاره اسانه کوي چې دکار وړ معلومات لاسته راوړي ترڅو خپلې اړتیاوې پوره کړي. په دغه پاڼه کې مالیه ورکوونکی کولی شي د ۱۳۸۷ کال پرعایداتو باندې دمالیاتو قانون، بیلابیلې عامه خبرتیاوې او طرزالعملونه، فورمې او د هغوئ د بشپړولو لپاره لارښووني، لارښودونه، ارشیف شوي سندونه، د موضوعي مالیې په هکله پوښتنې او ځوابونه او داسې نور ترلاسه کړي. همدارنګه په دغه برېښنا پاڼه کې پرعایداتو باندې دمالیاتو دقانون تعلیماتنامه هم شتون لري دغه تعلیماتنامه د اړوندو مقرراتو ترڅنګه د قانون هره ماده زیاتره وخت د کومکي بیلګو په مرستې سره په جلا توګه تشریح کوي.

## مالیاتی فورمې او معلومات

مالیاتي فورمې، لارښودونه او د مالیاتو اړوند معلومات د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست او دمستوفیتون دسیمه ایزو دفترونو څخه ترلاسه کیدای شي او لازیات معلومات او ۱۳۷۸ کال د عایداتو باندې دمالیاتو قانون یو نقل د مالیې وزارت د ویبپاڼې www.mof.gov.af/tax د (د مالیاتو اړوند معلومات) له برخې څخه ترلاسه کیدای شي.

د افغانستان اسلامي جمهوریت

د مالیې وزارت

د عوایدو لوی ریاست

۱۳۸۷